# د یو ایډیالیست له یادونو څخه

د عبدالملک پرهیر رباړه
د انتون چیخوف لیکنه

د مې د میاشتي لسمه نېټه وه چې خپله ۲۸ ورځنۍ رخصتي مې واخیسته. د دفتر د معاشونو له مامور څخه مې په زیاتي غوړه مالي مخکي له وخته سل روبله تر لاسه کړې او پریکړه مې وکړه چې په هره بیه وي د یو ځل دپاره به ښه او خوندور «ژوند » وکړم ، داسې ژوند چې ان لس کاله وروسته یې هم هېر نه کړم. د « ښه ژوند کولو » مانا څه ده؟ دا داسې مانا نه لري چې سړی د یوې ننداري د لیدو د پاره اوړني تیاتر ته لاړ شي او بیا ماښام په سویه خواړه وخوري او سهار خوښ او خوشحال بېرته کور ته ستون شي ، او په دې مانا هم نه دی چې لومړی د انځوریزو تابلو ګانو لیدو ته لاړ شي او بیا له هغه ځایه د آس ځغلولو سیالۍ ته او هلته په شرط وهلو کې برخه واخلي او پیسې باد باد کړي . که غواړې چې یو ځل ښه او په زړه پورې ژوند وکړې نو په اورګاډي کې کښېنې او داسې یوې سیمې ته لاړ شې چې هوا یې د رنګارنګه ګلانو او صحرایي ګیلاسو له عطرونو ډکه وي ، داسې ځای ته لاړ شې چې د زنبق او غاټول ګلانو د ځمکې له زړه نه سر را ایستی وي او په خپلو زړه وړونکو او ښایسته رنګونو لکه د بریښنا ډوله کوچنۍ ګلۍ په څېر سترګې مو پرې خوږې شي . هلته ، په پراخه او ارته فضا کې ، د شنه ځنګله په غېږه او د هغې د مستو خوږونو په انګازو ، د مرغانو اود شنو حشرو په غږونو کې د « یوځل ښه ژوند» په مانا به پوه شې ! په تېره بیا که د هغې سره د ښځو ښایسته مخونه، ښکلي سترګې او د هغوې چټک کاته او سپني جامې هم یو ځای شي ... کله چې د کلي په لور روان وم په داسې حال کې چې د رخصتۍ پاڼه او د معاشونو د مامور مهرباني او احسان مې په جیب کې ؤ باور وکړې ، له همدې پرته مې د بل څه په اړوند فکر نه کاوه.

د یو ملګري په سپارښتنه مې په هغه ویلا کې چې صوفیه پاولونا کنیګینا په کرایه اخیستې وه یوه کوټه په کرا ونیوله. هغې د خپلې ویلا یوه کوټه ، د خوراک او څښاک په ګډون د مبل او نورو ټولو وسایلو سره په کرایه ورکوله. زما د هیلې خلاف د کرایه نیولو کار ډېر ژر ترسره شو ، په دې ډول د پرووا په لور وخوځېدم ، د میرمن کنیګینا کلیوالي ویلا مې پیدا کړه. په یاد مې دي کله چې د ویلا انګړ ته ننوتم نو ... لاس او پښې را څخه ورکې شوې . انګړ ډېر منظم او په زړه پورې ؤ خو ( اجازه راکړې ووایم ) د انګړ په پرتله په خپله هغه میرمن ډېره زړه ښکلې او زړه راښکونکې وه چې هلته د میز تر شا ناسته او چای یې څکلو، هغه یوه ځوانه میرمنه وه ، خو لږ شانتې چاغه ښکاریده . ځوانې میرمنې خپلې سترګې تنګې کړې او ماته متوجه شوه او پوښتنه یې وکړه:

ـ کوم څه مو په کار دی؟

ځواب مې ورکړ:

ـ ښښنه غواړم ...زه ... زه... د میرمن کنیګینا ویلا لټوم... کېدی شي تیر وتی اوسم!

ـ زه په خپله یم ... څه غواړې ؟

لاس او پښې را نه ورکې شوې ... ما هغه کسان چې خپل اپارتمانونه او ویلاګانې یې په کرا ورکولې لیدلي ول هغوی اکثره زاړې او روماتسمي میرمنې وې چې د قهوی بوی به ترې راتلو، خو اوس ... د هاملت په ژبه « ای د آسمان پریښتو و مې ژغورې » زما تر وړاندې ښکلې ، ناز نازې ، راښکونکې او زړه وړونکې مېرمنه ناسته وه . هغې ته مې خپل مقصد د تت او پت په ژبه بیان کړ، ویې ویل:

اوه ، خوشحاله یم تاسې وینم ! مهرباني وکړې کښېنې ! له نېکمرغه ما له ځانه سره زموږ د یو ګډ دوست لیک هم درلود. چای څکې ؟ د پېروي (قیماق )او که د لیمو سره یې جوړ کړم ؟

سړي ته همدومره بس دی څو د ښځو ( په تېره بیا د یوې توني لرونکې وېښتو ښځې ) خوږو خبرو ته کښېني او ځان په خپل کور کې احساس کړي او داسې تصور ورته پیدا شي چې له ډېر پخوا ورسره پېژني .

[D
at
o]

# د یو ایډیالیست له یادونو څخه

د عبدالمحمد پرهیر ربارړه
د انتون چیخوف لیکنه

صوفیه پاولونا هم د همداسي ښځو څخه وه . مخکي له دې چي د چای لومړی پیاله تر پایه وڅکم ، پوه شوم چي هغه مېړه نه لري او د خپلو پیسو د ګټي له لاري خپل ژوند تامینوي او تاکل شوي ډېر ژر د هغي ترور د یوې مودې دپاره د هغې لیدو ته په مېلمستیا راشي . همدارنګه پوه شوم چي هغه ولې یوه کوټه په کرایه ورکوي . ویل یې هغه په خپله ۱۲۰ روبله د کرایي دپاره ورکوي . د یوې یوازې (ځانته) ښځې دپاره د دومره پیسو ورکول آسانه کار نه دی او دویم دا چي ډارېږي چي کومه شپه کوم غل یې کور ته را نه شي او یا د ورځې له پلوه کوم لېونی بزګر یې ویلا ته دننه نه شي او د سر خوږ ورته جوړ نه کړي . ددې کبله د ویلا په یوه ګوټ کي یوه کوټه کوم مجرد سړي او یا ښځې ته په کرایه ورکوي ، ددې کار دپاره باید څوک پر ما بد و نه وایي او ملامته مې نه کړي.

هغې د مربا هغه پاتي شوني چي په کاشوغه کي ول وڅټل او اسویلی یې و ایست.

خو دغه مېړمن د ښځو په پرتله نرینه غوره ګڼي ! ځکه له نرینه سره دومره جنجال نه وي او له بلې خوا په کور کي د یو نرینه شتون د یوازیتوب ډار هم له منځه وړي.

لېږه دا چي ساعت ګړی وروسته له مېړمن صوفیه پاولنا سره مي ملګرتیا ټېنګه شوه. کله مي زړه کېده له هغې سره خدای په اماني وکړم او خپلې خوني ته لاړ شم و مې ویل:

ـ رښتیا هیر مي شو پوښتنه وکړم ! مونږ له اصلي خبرې پرته د هر څه په اړوند خبرې وکړي ! د اوسیدو د پاره چي ۲۸ ورځې به وي څومره کرایه باید درکړم ؟ البته د خوړو ....چای او داسي نورو سربیره......

ـ بله خبره دې پیدا نه کړه چي په اړه یې خبرې و کړې ؟ څومره چي دې وس وي هماغومره راکړه... زه خو کوټه ددې دپاره په کرا نه ورکوم چي ګټه وکړم! همداسي ... له یوازېتوب څخه د خلاصون په خاطر دا کار کوم... کولی شي ۲۵ روبله راکړې ؟

څرګنده وه چي کولی مي شو . په دې ډول په کلي کي زما ژوند پیل شو .... دا ژوند له دې کبله په زړه پورې ؤ چي هلته ورځ لکه ورځ او شپه لکه شپه ده، دغه یو رنګي څومره ښکلي اوښایسته ده ! ګرانو لوستونکو زه په شوق او ولولو راغلی وم ، اجازه راکړئ له دې کبله تاسي په غېږ کي ونیسم او ښکل مو کړم ! هر سهار بې له دې چي د اداري مسوولیتونو چرت را سره وي ، سترګې مي پرانیستلې او له چای سره مي پیروي (قیماق) نوش جان کاوه . د سهار په یوولس بجو د « سهار په خیر » ویلو دپاره د صوفیه پالونا لیدو ته تلم او له شېدو سره مي خوندوره قهوه څکله او بیا تر غرمې د اوتو بوتو وار رسېده . د دوه بجو په شا اوخوا کي د غرمه ناري وار رسېده ... څه غرمه ناری ! داسي فکر وکړئ چي لکه د لېوه څېر وږي یاست ، د خوړو د میز شاته کېښئ او د بیر یو لوی ګیلاس تر وروستي څاڅکي په سر آړوئ او د خوک توده غوښه او د غرنۍ بوټو اچار دې مخه ته پروت وي او خوری یې . او بیا د قورمې غو ښه او د ترکاریو سابه هم را یاد کړئ . غرمنۍ چي و خوړل شوه ، ماسپښیني خوب او ډېر آرامه استراحت ، د رمان لوستل ، او پرله پسي له ځایه ټوپ وهل او کله ناکله صوفیه پاولونا هم ستاسي د ور مخې ته را څرګندېږي او « ښه استراحت! ستاسي مزاحمه کېږم نه ! » ... او بیا وروسته د لامبو وار رسي . مازدیګر د صوفیه پاولونا په ملګرتیا اوږده مزلونه او چکرې ... د یوې شیبې دپاره د ماښام ترږمې چي هر څه په درانه خوب ویده دي د بلبلو ، چنچنو او نورو مرغانو غږونه ، خوږه اونرمه وږمه ، د بوټو او وښو چمن او د اورګاډي کرښه چي تر خوایي له یوې ښکلي میرمنۍ سره چي ګڼ وینښتان لري او لږه شان چاغه ده او د ماښامنۍ یخنۍ له امله لږه رېږدي او د سپوږمۍ تررنا لاندې یې مخ لږ شان ژېړ بخنه ښکاري او کله کله هم تاسي ته ګوري او ستاسي په لور مخ آړوي ... دا هر څه ځانته مجسم کړئ چي څومره له خوند او مزې ډک دی.

# د یو ایډیالیست له یادونو څخه

د عبدالملک پرهیز رباړه
د انتون چیخوف لیکنه

لا په کلي کې زما د اوسېدو یوه اونۍ نه وه تېره شوې هماغه څه پېښ شول چې تاسې ګران لوستونکو یې لا د پخوا د پېښېدو  تمه لرله ، هغه څه چې هیڅ داستان پرته له هغې ښکلا او خوند نه لري ... نور مې نه شو کولی مقاومت او ډېره وکړم ... د مینې خرګندونه مې وکړه ... هغې په سره سینه او په بشپړ سرښت سره زما خبرو ته غوږ نیولی ؤ ، ته به وایې چې له ډېر پخوا ددې خبرو اورېدو ته په تمه وه ، یوازې خپل ظریفه شونډې یې کږې وږې کړې ـ ته به وایې غواړې و وایې : « دې خبرې خو  دومره  لویو وړو خبرو ته اړتیا نه درلوده ؟ »

۲۸ ورځې لکه د یوې ثانیې په څېر تېر شوې . د رخصتۍ په وروستۍ ورځ پداسې حال کې چې له هرڅه لا پوره موړ شوی نه وم ، د صوفیه پاولونا او له کلي سره مې مخه ښه وکړه . کله چې مې خپل بکس تړلو ، هغه پر څوکۍ ناسته وه او د خپلو ښکلیو سترګو اوښکې یې پاکولې . ما چې په سختۍ سره د خپلو اوښکو مخه نیوله ، هغې ته مې ډاډینه ورکوله او قسم مې و خوړه چې د اونۍ د وروستي په رخصتیو کې ستا لیدو ته  راځم او په ژمي کې هم په مسکو کې لیدو ته دې کور ته راځم . ناڅاپه د کوټې کرایه رایاده شوه او ومې ویل:

ـ اوه ګراني نژدې ؤ د کوټې کرایه مې له یاده وځي ، ووایه څو دې پوروړی یم ؟

په هق هق  یې ځواب راکړ:

ـ څه بیړه لرې ... اوس دې وي بیا کوم بل وخت به یې راکړې ...

ولې بل وخت ؟ ګرانې! وروري به کوو حساب ترمنځ ! سربېره پر دې نه غواړم ځان پر تا تاوان کړم .  - ګرانې صوفیه جانې تشریفات یوې خواته پرېږده ... وایه څو دې پوروړی یم ؟

د هق هق په حالت کې یې د میز جعبه کش کړه او ویې ویل:

- هیڅ خبره نه ده ... وي دې کوم بل وخت ته ... بیا به یې راکړې .

یو شیبه یې د میز جعبه ولټوله او بیا  یې یوه پاڼه کاغذ را و ایست او را  یې کړ.

پوښتنه مې وکړه:

زما حسابي ده؟ اوس سمه شوه !... ډېر ښه ! ... ( عینکې مې په سترګو کړې )  همدا اوس یې درکوم - ...( یو چټک نظر مې پر کاغذ واچوه ) ...ټول... صبر وکه وګورم ! څو شوې؟ ... ټول ...  ګرانې غلطه شوې نه  یې ؟ لیکلي دې دي ټول ۲۱۲ روبله او ۴۴ کپیکه . دا خو زما لګښت نه دی!

ـ ستا دی لاله کو جانه ! ښه ورته وګوره !

ولې دومره زیات ؟... ۲۵ روبله د کرایې او خوراک او څښاک له درکه ، منم... یو څه هم د پاک کارۍ -  دپاره . درې روبله ، داهم منم.

په سرو او حیرانه سترګو یې ما ته وکتل او په کشداره غږ یې وویل:

ـ نه پوهیږم لاله کو جانه ... ته لکه په ما باور نه کوې ؟ نو کاغذ ولوله ! بیر دې څکل ...  ما خو نه شو کولی چې د ۲۵ روبله کرایې څخه ودکا هم تاته پر میز کېږدم ! قهوه او پیروی (قیماق) ... ځمکنۍ توت ، آله بالو او ګېلاس ... تا خو په قرارداد کې نه ؤ لیکلي چې  قهوه او پیروی هم خورې خو هره ورځ دې

[D
at
o]

خوړل ! په هر صورت دومره ارزښت نه لري که دې غوښتي دې وي نو له ۱۲ روبلو هم درته تېرېږم او يوازې ۲۰۰ روبله راکړه.

خو دلته ۷۵ روبله هم تر سترګو کېږي نه پوهيږم چې دا د کومه درکه دي... رښتيا دغه ۷۵ روبله له کومه ځايه راغلي دي ؟

عجب ! ستا خوښه ! ته نه پوهېږې د کومه درکه دي ؟

د هغې خبرې ته مې وکتل خبره يې رېښتني ، روښانه او له حېرانتيا ډکه ښکارېده چې ومې نه شو کولی ان يوه خبره هم وکړم ، سل روبله نغدې چې راسره وې هغې ته مې ورکړې او د سلو روبلو سند ومې ورکړ او بکس مې پر اوږه کړ ، د اورګاډي د تم ځای پر لور و خوځېدم.

رېښتيا ګرانو لوستونکو آيا په تاسې کې داسې څوک شته چې ماته ۱۰۰ روبله راکړي ؟